# په افغانستان کې سیاست او حکومتولي:
# د ننګرهار ولایت بېلګه

AREU
څېړنې د بنه افغانستان لپاره

۱۳ کاله باکیفیته څېړنه

سلواغه ۱۳۹۳

اشلي جکسن

## کلیدي پیغامونه

- د غیررسمي واک د اړیکو په برخه کې د درک او پوهاوي نشتوالي، هغه نوښتونه، چې په رښتنیې توګه په افغانستان کې د پرمختیا او ثبات لامل ګرځي، له شک او تردید سره مخ کړي دي.
- د افغانستان د حکومت په جوړښت کې د نویو موسسو او ترسره شویو کړنلارو له لارې د موجود وضعیت د بیا پیاوړتیا او په دې اړه د تازه بحثونو پروسې.

د خوندي معیشت څېړنیز کنسرسیوم (SLRC)، څېړنې او پروګرامونه ښیي چې خلک څنګه په جګړه او د جګړې په ناخوالو کې د خپلو ماشومانو زده کړې ته پام کوي. همدارنګه دوی په داسې چاپېریال کې د ناروغیو پر مهال څه کوي؟ ټولګټو چارو ته په څه ډول لاسرسی مومي او بالاخره په ملي او سیمه ییزه کچه له دولت سره څرنګه اړیکه ټینګوي؟ دا د دې څېړنیزې موسسې لومړنی هدف دی او په دې هیله ترسره کېږي، چې د هغو راتلونکو پالیسیو او پروګرامونو لپاره د معلوماتو مرجع او منبع وي، چې له جګړو نه په اغېزمنو شرایطو کې د اوسیدونکو خلکو د ژوندانه د ښه والي په برخه کې به ښې پایلې ولري. د افغانستان د SLRC څېړنیز پروګرام هڅه کوي، د معیشت، د خدمتونو د وړاندې کولو او ټولنیز خوندیتوب په برخه کې داسې پیاوړي، عملي او اړوند شواهد وړاندې کړي، چې په افغانستان کې د نړیوالو د بوختیاوو او ماموریت د کړنلارو په تړاو به د ښو معلوماتو زېرمه چمتو کړي.

## د څېړنې موضوع څه ده؟

د افغانستان حکومت ډېر وخت نازک او لړزانده ښودل شوی دی. که څه هم مرکزي دولت په دې کې پاتې راغلی، چې په ډېرو برخو په ځانګړې توګه تر پلازمینې ور ها خوا، لازم او اغیزناک اقدامات ترسره کړي، خو دا په دې معنا نه ده، چې هېواد د ولایتونو په کچه له بلوا او ګډوډیو سره مخ دی. د دې څېړنې هدف په افغانستان کې د حکومتولی او د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د نړیوالو ټولنو د تیوري پلي کول دی، همدارنګه د موجود واک له اړیکو او مناسباتو سره د یادو پروګرامونو او تیوریو کړ ټکي او د ټکر موارد هم څېړي.

سربېره پر دې، یوه بله پېچلې موضوع دا ده، چې د سیمه ییزې حکومتولی د جوړښت په برخه کې ترسره کېدونکې هڅې له تېروتنو ډکې او متناقضې دي. دلته د کلیدي ارګانونو په ګډون د رسمي ادارو لکه د ولایت مقام او ولایتي شورا د واک او رول په اړه د روڼتیاوو اوځرګندتیا نشتوالی محسوسېږي. په دواړو برخو (د ولسوالۍ او هم په ولایتي کچه) د روڼتیا نشتوالی، په دې معنا ده، چې یو زیات شمېر غیررسمي کړې، پر سیمه ییزو چارو او سرچینو واکمنې دي.

دا څېړنه په دریو برخو رڼا اچوي او په دې لټه کې ده، چې د سیمه ییزو شرایطو په پرتلنې سره، د حکومتولۍ او پرمختیا په برخه کې د شته فعالیتونو نیمګړتیاوې په ګوته کړي. د دغې څېړنې په پیل کې هڅه شوې چې د اړیکو څواک درک او وپېژني او سیمه ییزه حکومتولۍ او ټولګټو ته لاسرسی وڅېړل شي. یو شمېر پرېکنده لاملونه او فکتورونه د دې لامل شوو، چې د ننګرهار ولایت مو د دې څېړنې د موضوع محور وګرځاوه. له ۲۰۰۱ ز. کال راهیسې په افغانستان کې د متحده ایالاتو په پراخ پوځي حضور سره، په دې ولایت کې زیاتې مالي مرستې او بودیجې ولګول شوې. همدا راز ننګرهار د ختیځ زون سیاسی مرکز دی؛ د واک د سیمه ییز مرکز په توګه پېژندل کېږي؛ له مهم جیوپولټیک ارزښت څخه برخمن او له پاکستان سره په پوله کې پروت ولایت دی.

په دې برخه کې پلټنه د دریو بنسټیزو پوښتنو په مطرح کولو سره پیلېږي:

- افغانستان څنګه سیمه ییز ټولنیز نظم لري او په را مینځته کېدو کې یې کوم شرایط دخیل دي؟
- دوی چې کله د ټولګټو چارو د وړاندې کېدو هسته جوړوي، څنګه یې تغییر او توپیر کوي او انګیزې یې څه دي؟
- نړیوال لوبغاړي څنګه کولی شي، چې دغه شرایط تر خپل نفوذ لاندې راولي، ترڅو په پراخه او اغېزمنه توګه کار وکړي او اجاره یې کړنلارې محدودې کړي؟

## موږ څه شی ترسره کړي؟

دغه لنډه څېړنه د هغو موندنو له مخې لیکل شوې، چې په کابل او ننګرهار کې له کیفي معلوماتو او اسنادو ترلاسه شوي وو. د ۲۰۱۳ ز. کال د جون او دسمبر میاشتو ترمنځ، په دواړو ولایتونو، پلازمینه کابل او ختیځ ولایت ننګرهار کې ۷۵ مرکې ترسره شوې چې زیاتره یې نیمه جوړښت لرونکې (semi-structured) مرکې وې. دغه کلیدي مرکې د پارلمان او ولایتي شوراګانو غړو، والیانو، ولسوالانو، وزیرانو، ملکي کارکوونکو، دولتي کارکوونکو، د مدني ټولنې فعالانو، ځوانانو او بشر حقوقو فعالانو، سوداګرو او مرسته رسوونکو سره ترسره شوې دي.

مرکې د لاندې شیانو پر جوړښت او پېژندنې باندې تمرکز لري:

- هغه ونډه، چې د رسمي دولت د جوړښت او تشکیل دننه او بهر یې کلیدي فعالان او لوبغاړي ترسره کوي.
- د رسمي دولت ونډه.
- ټولګټو او اقتصادي فرصتونو ته د لاسرسي په محدودوالي او زیاتوالي کې د فردي واک د دلالانو ونډه.

سربېره پر دې، نیمه جوړښت لرونکې، پر هغو ګروپي بحثونو او مرکو تمرکز لري، چې په جلال اباد، تورخم بندر او همدارنګه د ننګرهار په (سره رود او دره نور) ولسوالیو کې ترسره شوې دي. دغه پوښتنې په دې هدف تر سره شوې، تر څو پوه شو چې له قانوني اړخه د افغانستان په ولسوالیو کې د دولت عملي فعالیتونه څنګه دي؟ په جلال اباد کې د ولایتي حکومت او ولسوالیو حکومتولۍ ترمنځ اړیکه او تر هغه پورته د وزارتونو د فرعي څانګو له لارې په کابل کې له مرکزي حکومت سره څنګه دي؟ همدارنګه د څېړنې د لا ژورتیا په موخه، پر پراخو ثانوي معلوماتو او اسنادو رسمي شمېرو، خبري مطالبو، ساحوي راپورونو، تاریخي توکو او خاکستري ادبیاتو (علمي او ارزښت لرونکو مطلبونو ته وویل کېږي چې د پوهنتونونو په سطحه، دولتي، تجارتي او صنعتي ارګانونونه، چې د بریښنایي او چاپي شکل باندې تولیدیږي، خو هیڅ زیرمه او مرجع یې نه مستند کوي) هم تکیه شوې ده.

## زموږ موندنې کومې دي؟

### غیررسمي حکومتولي او ځواکمني څېرې

د افغانستان دولت یوازې د کاغذ پرمخ متمرکز ( راټول ) ښکاري، خو په واقعیت کې دلته واک تر ډېره غیر متمرکزه او په سیمه ییزو مرکزونو پورې محدود پاتې شوی دی. په دې هیواد کې د څو لسیزوجګړو پایله دا ده چې واک د ځایي زورواکو او قوماندانانو په کنټرول کې وي. دې کسانو د پخوانیو ملکانو ځای نیولی او د خپل قدرت او اقتدار د دوام په لټه کې دي. په ډېرو سیمو کې چې کله د طالبانو واکمني رنګه شوه، نو دا ډول زورورو کسانو سرونه راپورته کړل، تاوتریخوالی یې غوره کړ، د سیمې واک یې تر ګنټرول لاندې راوست او په خپلو سیمو کې یې واړه حکومتونه جوړ کړل. دا ډول کسان په خپلو سیمو کې خپلو ځانونو ته دولت وایي او هڅه کوي چې یوازې د دوی واک وچلیږي. د لومړنیو ټاکنو پرمهال، چې په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ز. کلونو کې ترسره شوې، د دوی ونډه کره شوه. د ۲۰۰۹، ۲۰۱۰ او ۲۰۱۴ز. کلونو ولایتي اوپارلماني ټاکنو په پایله کې، دوی په پرله پسې توګه بریالي شول، مهم او کلیدي دفترونه یې تر خپل واک لاندې رواستل او پر ولایتي سیاسي چاپېریال باندې یې خپل ګنټرول نور هم ټینګ کړ.

زورواکان او د دوی نفوذي کړی د دولت په ټولو برخو کې ژور او پراخ نفوذ لري او له قدرت څخه برخمن دي. دوی دولتي اداري ډېرې سختې اغېزمنې کړې، چې دا په خپله عامو افغانانو ته په سمه او اساسي توګه د خدماتو په وړاندې کولو کې ستونزې رامینځته کوي او د ادارو د کمزورتیا لامل ګرځي. سربېره پر دې کابل، د سیمه ییزو پیاوړو همکارو شریکانو په توګه، د والي په توګه د دوی له ټاکنې څخه ګټه پورته کوي. د بېلګې په ډول: د کرزي د واکمنې پرمهال، د والیانو، وزیرانو او نورو کلیدي چارواکو له ټاکنې څخه، په هېواد کې د بادوامه سیاسي فضا او دولت د رامنځته کېدو لپاره د مهمې وسیلې په توګه کار اخیستل کېده. په دې توګه، په دغو پستونو کې د ګومارنې او انتصاب په تړاو، بیا هم تر سیالۍ او وړتیا، سپارښتنې او مصلحت ارزښتمن وو. که څه هم یو شمېر تکنوکراتان هم په دغو کلیدي پستونو کې وټاکل شول، خو دغه بېلګه د هغو ولایتونو لکه (بامیان ولایت) په تړاو صدق کوي، چې هلته سرچینو ته لاسرسی محدود دی او همدارنګه د نړیوالې ټولنې له مهمو لومړیتوبونو څخه هم نه ګڼل کېږي.

په واقعیت کې د ولایتونو د پرمختیا د ښې غوړېدا او سرچینو ترمنځ (چې د زورواکو له خوا نسبتا په اسانۍ سره ګټه اخیستل کېږي) یو ارزښتناک تړاو موجود دی. زیاتره دغه ولایتونه نړیوال پولې او متقابل سوداګریز لوی بندرونه لري، همدارنګه په پراخه کچه د بهرنیو سرتېرو حضور پکې متداوم دی. دا په دې معنا ده، چې د مرسته شویو پیسو یوه زیاته برخه دغو ولایتونو ته راغلې ده. دا د عوایدو د نورو تولیدي فرصتونو د کوربه توب معنی هم ورکوي چې، د امنیتي او لوژستیکي تړونونو له اړخه ترلاسه کېږي. باید ووایو، چې عوایدو او سرچینو ته مشروعې او نامشروعې لاسرسی د سیاسي چنې وهلو بنسټ جوړوي.

## د ټولګټو او ټولیزو سرچینو انحصارول

په ۲۰۰۵ ز. کال د ننګرهار د والِي په توګه د ګل آغا شیرزي ټاکنه، په دې برخه کې ډېر اغېزمن ګام ګڼل کېږي، چې زورواکي یې پر دې قادر کړل تر څو عامه شتمنې د خپل واک د بنسټونو د پیاوړتیا لپاره وکاروي. همدارنګه دغه چاره پر محلي او سیمه ییز نظم د غالبېدو په موخه، د یو بهرني تکتیک د کارونې د ځانګړي کرنلارې ښودونکې هم ده. شیرزی، چې د کندهار اوسېدونکی و، اړ و، چې د ننګرهار د خلکو او د نړیوالو قاطع ملاتړ له ځانه سره ولري.

نوموړي د یوې مودې لپاره هڅه وکړه، چې له عامه شتمنې څخه د ملاتړ په موخه، ځینې ټولګټې پروژې ترلاس لاندې ونیسي. هغه له یو شمېر پخوانیو قوماندانانو لکه حضرت علي، همدارنګه یو شمېر سپین ږیرو او د قومونو له استازو لکه شینوارو سره، چې د سیاست له بهیر څخه لېرې ساتل شوی و، هم خپلې اړیکې ټینګې کړې. په ځانګړې توګه هغه هڅه وکړه، چې د نړیوالو ځواکونو لخوا د کوکنارو د له منځه وړلو نغدي بدیل پروګرام له لارې په تاریخي لحاظ له پامه غورځېدلې سویلي ولسوالیو، چې د ننګرهار د کوکنارو د کښت ستر مرکز ګڼل کېږي، ملاتړ ترلاسه کړي. د لېرې پرتو سیمو قومي

مشران اړ شول، چې د خپلو کوکنارو له کروندو څخه منصرف شي او په بدل کې يې نغدي مرستې ترلاسه کړي؛ همدارنګه عام خلک د نورو محصولاتو او پرمختیايي پروژو په بدل کې، دې ته ژمن شول، چې خپل کرل شوي کوکنار له منځه یوسي. د کوکنارو د کروندو د له منځه وړلو په موخه د شیرزي د بدیل دغه برنامه، د نړیوالو ځواکونو او ډونرانو له خوا د یو ارزښتناک اقدام په توګه وګڼل شوه؛ د ده د دغو اړیکو پراختیا او نړیوالو سرچینو ته لاسرسی، د دې لامل شو، چې ننګرهار پر ۲۰۰۸ ز. کال له کوکنارو څخه پاکه سیمه اعلان شي.

په ننګرهار ولایت کې، د ټولګټو چارو ترسره کول، په خپله د ننګرهار لپاره نه و. په دې معنا، چې تر ټولو مخکې د چارواکو ګټې مطرح وې. د بېلګې په توګه، په حکومتولۍ او خدمتونو کې یوه اندازه ښه والی، په مستقیمه توګه د دوی له شخصي ګټو سره تړلی و. په نهایت کې دوی د ادارو د پرمختیا په زیان، پر اړیکو تړلتیا او وابستګۍ پیاوړې کوي. د بېلګې په ډول، که سړک جوړېده، په دې برخه کې لومړنۍ انګیزه او لامل، په خپله د سړک جوړول نه و، بلکې لومړنۍ انګېزه، د هغو قراردادي شرکتونو له لارې د عوایدو ترلاسه کول و، چې له دوی سره یې اړیکه درلوده او د زورواکو یا د هغوی د استازو له خوا کنټرولېدل.

مشروعیت او قدرت، نژدې تل د دولتي او غیردولتي سرچینو له اجباري کنترول او نیونې څخه مشتق دی. د تورخم په بندر کې، د غیرقانوني مالیاتو اخیستل او د ګمرکي عوایدو غلا د شیرزي د حکومتولۍ د ستراتیژي هسته جوړوله. د والي د مشبک تر نامه، د شیرزي مالیات په میاشت کې له **۱,۵** میلونه تر **۴** میلونه ډالرو پورې اټکل کېده. شیرزی د دغو مالیاتو لړه برخه د شیرزي صندوق له لارې، د سیمه ییزو پرمختیايي پلانونو په برخه کې بېرته لګوله. دا تکتیک د دې ښودنه کوي چې د ټولګټو چارو وړاندې کول، په هغو مواردو پورې تړلي دي، چې د واک د زیاتېدو لامل ګرځي، یا نور فردي اختیارونه لکه (شیرزی) ولري.

## د اړیکو یو دولت

د حکومتولۍ د اصلاح په برخه کې د نړیوالې ټولنې زیاتره هڅې او فعالیتونه د ،اداري بریکولاژ، پروسې له مخې مشخص شوي وو. (سټارک او بروژست **۱۹۹۸**). دا په دې معنا ده، چې تګلارې او اصلاحات، د دې پرځای، چې په اداري او ټولنیزو برخو کې د بدلون لامل شي، یوازې د نویو ادارو او کړنلارو له لارې، د موجود نظم د بیا ټینګښت لامل وګرځېدل. دا د ارادو د نشتوالي له امله نه، بلکې پر موجود ټولنیز نظم د حاکمو اړیکو او انګیزو د ناسم درک په پایله کې و.

په افغانستان کې، چېرې چې د واک سیمه ییزو دلالانو له نړیوالو لوبغاړو سره د ګټو پر سر معاملې کولې، د امریکايي ځواکونو او نړیوالې ټولنې حضور، تر ډېره د سیاسي رانتیر (اجارې) بازار په رامنځته کېدو او غوړېدا کې ستر رول ادا کړ (ډي وال **۲۰۰۹**). د امنیت د پیاوړتیا او تریاکو د له منځه وړلو لپاره، ځانګړو شویو سرچینو ته د لاسرسي په موخه د دولتي رسمي چارواکو او د قدرت نارسمي ستو ترمنځ سیالي روانه وه. د امریکا متحده ایالاتو پوځ او د بې کچو او بې حسابو پیسو باران، د ختیځ په سیاست کې، د ګټونکو او بایلونکو سیستم د رامنځته کېدو لامل شو. د ګټونکو لپاره، دغو سرچینو ته لاسرسی، دوی پر دې قادر کړل، چې شخصي امنیتي او ساختماني شرکتونه جوړ کړي، چې دغه چاره د کلیدي دلالانو د واک او شتمنۍ د ډېرېدو لامل شوه. دغو سرچینو ته لاسرسی، یوازې د پیاوړو اړیکو په برکت، چې په قومي، قبایلي، کورنۍ او اقتصادي اړیکو کې رېښه لري، شونی دی. رسمي حکومتولۍ او قوانین او سیستم یوازې د کاغذ پر مخ لیکل شوی دی. سرچینو ته لاسرسی لکه اقتصادي فرصتونو، دولتي دندو او په پوهنتون کې مهمو پستونو ته د لاسرسي چارې د غیر رسمي اصولو له مخې اداره او ترسره کېږي.

د نړیوالو تدابیر او ماموریت هم، د بېلابېلو مرستندویو فعالانو (ډونرانو، مرستندویو سازمانونو او ملګرو ملتونو) د ترسره شویو متضادو او متداخلو اصلاحاتو له امله، په خپله له سیالۍ سره لاس او ګرېوان دی. د روڼتیا، څارنې او انسجام د نشتوالي پایښت، د دې لامل شوی، چې دولتي اداري په غیرمترقبه توګه د شخصي ګټو لپاره وکارول شي. سربېره پر دې د ډونرانو، نوښتونو او طرحو ترمنځ د همغږۍ نشتوالي، زورواکانو ته د دې فرصت برابر کړی، چې د نړیوالو په مرستو کې په درغلۍ سره، د عوایدو او شتمنیو پر سیندونو مسلط شي. دغه چارې، هم د سترو واکدارانو په برخه کې صدق کوي او هم په سیمه ییزه کچه د کلیوالي او قبایلي سیالانو په تړاو رښتینې دي.

## دغه څېړنه پالیسي جوړوونکو ته څه پیغام لري؟

په افغانستان کې رسمي دولتي اداري او پروسې تر هغه، له قانون او اصولو سره سم دنده ترسره کولی شي، چې د زورواکو ګټې له ګواښ سره مخ نه کړي. بودیجوي متمرکز کنټرول او متمرکز واک، هغه ترکیب دی، چې د فرعي یا سیمه ییزو ادارو د اغېزمنتیاوو او پاسخګویۍ د کمزورتیا لامل ګرځېدلي دي؛ سیمه ییزې اداري د قانوني رول په وسیله، په اغېزمنه توګه بې واکه شوې دي. هغه کسان، چې د قدرت بهرنی بنسټ او له سیستم نه بهر سرچینو ته لاسرسی ولري، هېڅوک يې په وړاندې د درېدو جرأت نه لري. د سیمه ییزې حکومتولۍ په ادارو کې د شفافیت نشتوالي، د شخصي ګټو د پاللو او فعالېدو لامل ګرځېدلی دی.

ښايي د مرستندویانو د رښتیني همغږۍ په پایله کې له دغو ناخوالو او ګډوډیو څخه تر یوه کچه مخنیوی شوی وای، خو ستونزه تر دې ډېره ژوره ده. زیاتره دغه حکومتي پروګرامونه داسې ښکارېدل، چې موږ فرض کړو، تر ولایتي مرکز اخوا نور څه نشته. په داسې حال کې، چې د سیمه ییزې حکومتولۍ پیچلی سیستمونه له ډېرې مودې راهیسې پر خپل ځای پاتې دي. په ختیځ کې، دغه عرفي اداري او د اړیکو شبکې له پیاوړي مشروعیت څخه برخمنې دي. دا واقعیت دی، چې د سیمه ییزو زمینو او شرایطو په تړاو له کافي پوهاوي پرته، له بهره د جوړښتونو تپل، له پیله له ماتې سره مخ دی.

د داسې نوښتونو لکه د بریکولاژ پروسو د پیچلي پوهاوي کارول، کېدای شي د یوې اغېزمنې حکومتولۍ د رامنځته کېدو په برخه کې اغېزمن وي. دوی باید پر دې ډاډمن وي، چې د ولایت او ولسوالۍ حکومت دواړه استازی حکومتونه دي او په کافي اندازه باید د دوی د حکمونو په پلیتابه کې خپل قدرت وکاروي. د رسمي او غیررسمي حکومتولۍ به اړه سیاسي بحثونه، چې تر ډېره یې دواړه بېل سیستمونه ګڼي، کېدای شي د دواړو ترمنځ د متقابلو اړیکو فضا پیکه کړي. د واک د اړیکو او سیستمونو شتوالي باید له رسمي حکومتولۍ سره یوځای په پام کې ونیول شي.

د امریکايي ځواکونو په شمېر او د سرچینو په کچه کې د کموالي رامنځته کېدل، د افغانستان پر سیمه ییز اقتصاد او سیاسي تحرک یوه ستره ضربه ده. دا د هغو واکدارانو او زورورو کړیو لپاره یو ژوندی واقعیت دی، چې د امریکايي ځواکونو له ملاتړ څخه برخمن وو. د نړیوالو د مالي سرچینو او پاملرنو په کمېدو سره، ممکن د ټولګټو چارو د وړاندې کېدو په برخه کې د دغه واکدارانو انګېزه هم کمه کړي. تر دې وړاندې، ځایي واکداران پر دې

بريالي کېدل چې د نشه يي توکو د له منځه وړلو پروژو له مالي ګټو څخه مستفيد شي. اوس د دغو مالي بوديجو په کچه کې کمښت او په ورپسې پړاوونو کې يې يو مخ بندېدل، په ټولنه کې د دوی د واک د کمزورتيا لامل ګرځېدلی دی. په ختيځ کې د شيرزي په سقوط سره دا مسله ثابته شوه، همدارنګه له دې واقعيت څخه هم سترګې نه شو پټولی چې ځينو کليوالو بېرته د کوکنارو کرکيلي ته مخه کړې ده.

د ننګرهار ولايت سياسي ليد د شيرزي تر استعفا او همدارنګه د ۲۰۱۴ تر ټاکنو وروسته بدل شوی دی. له يلې خوا، داسې ښکاري، پخوانی ټولنيز نظم، چې د انتصابي او ټاکنيزو پروسو له لارې پياوړی شوی و، پر خپل ځای پاتې دي. په همدې حال، د تحول شيبې، د يو فرصت په توګه بيا هم دې ته اجازه ورکوي، چې يو ځل بيا هغه لارې چارې وازمويو، چې نړيوالې ټولنې په خپل ماموريت کې ترې کار اخيستې و. له ننګرهار ولايت څخه راټول شوي شواهد او مدارک، پر هغو نويو کړنلارو ټينګار لري، چې په رښتينې توګه په حکومتولۍ کې د ثبات او پرمختيا لامل ګرځي؛ او هغه څه دي، چې افغانان اوسمهال ورته بېړنۍ اړتيا لري.

## مأخذ


De Waal, A. (2009) 'Mission without end? Peacekeeping in the African political marketplace.'International Affairs 85(1).

Stark, D. and Bruszt, L. (1998) Postcolonial pathways: Transforming politics and property in East Central Europe. Cambridge: Cambridge University Press.



### د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې ميشته يوه خپلواکه څېړنيزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پاليسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپاليسۍ او چارومثبتې اغيزې دي، او همدا راز نومورې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه، د څېړنې پايلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسيدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخيستنې دترويج په موخه له پاليسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتيا د پياوړي کولو په موخه ښکيل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړيوالې مرستندويې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه يو بورد لري چې د مرستندويو ادارو، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخيزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري.

په ۲۰۱۵ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپايي کمېسيون (EC)، د سويډن د بهرنۍ پرمختيا د مرستندويه ادارې (SIDA)، د نړيوال پرمختګ انسټيټيوټ (ODI)، نړيوال بانک، د امريکا د سولې انسټيټيوټ (USIP)، د نړيوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې (GIZ-GOPA) Gmbh، د افغانستان لپاره د سويډن کميټه (SCA)، د ختيځ او افريقايي مطالعاتو لپاره د لندن پوهنتون (SOAS)، د امريکې د متحده ايالاتونو د نړيوال پرمختيا سازمان (USAID) او د فيلينډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.